د افغـــــــانستان اســـــلا مي امارت
د مهـــــاجرینواوراستنېدونکوچارووزارت
مـــــــــالي او اداري معینیت
د اطـــــــلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطــــــلاعاتو آمـــــــریت

اونیزه
راستنیدنه
عــودت
هفته نامه

۱۱۰مه گڼه، ۱۴۰۵ وږي: لومړی مخ/ شماره ۱۱۰ سنبله ۱۴۰۵:صفحه اول




## د مهاجرینو چارو وزیر د بنګله دېش هېواد د علماوو او پانګه‌والو له پلاوي سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر نن په خپل کاري دفتر کې د بنګله‌دېش هېواد د علماوو او پانګه‌والو له پلاوي سره وکتل.

په دغې لیدنه کې، چې د اسلامي امارت او بنګله دېش حکومت د اړیکو د څرنګوالي او لانښه تعامل په اړه خبرې وشوې، په پیل کې راغلو علماوو او پانګه والو وویل، چې د نړۍ مسلمانان په افغانستان کې د جهاد د بریا او د اسلامي نظام د ټینګښت له امله خوښ دي او زیاته یې کړه، چې اسلامي نړۍ باید له اسلامي امارت سره نیږدې او ژورې اړیکې ولري.

هغوی د کابل او ډاکه اړیکې د پراختیا په حال کې وبللې او څرګنده یې کړه، چې دواړه لوري باید مناسب تعامل او د پلاوو تګ راتګ زیات کړي.

هغوی وویل: په افغانستان کې د بشپړ امن په راتګ سره د پانګونې او صنعت لپاره غوره فرصتونه چمتو شوي او نړۍ‌وال سوداګر په افغانستان کې پانګونې ته لېوال دي.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلو علماوو او پانګه‌والو ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه، چې له اسلامي هېوادونو سره نیږدې اړیکې او تعامل د اسلامي امارت د پالیسۍ لومړیتوب دی.

د نوموړي په خبر، چې په افغانستان کې د پرله پسې جهادي دورو بریا او د اسلامي نظام حاکمیت د افغانانو د یووالي او یوه فکر څرګندونه کوي او ثابته شوې، چې پر افغان خاوره یوازې اسلامي حاکمیت دوام کولای شي .

محترم مولوي عبدالکبیر یادونه وکړه، چې افغانانو ګڼې ستونزې ګاللې او اړتیا ده، چې نړۍ د افغانستان په رغونه کې همکاري وکړي.

## وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان با رئیس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان ملاقات کرد

محترم مولوی عبدالکبیر، وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان با آقای عرفات جمال رئیس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان در افغانستان، در دفتر کارش دیدار نمود.

در این دیدار که به بررسی مشکلات مهاجرین افغان و برگزاری نشست های چند جانبه با کشورهای میزبان مهاجرین اختصاص یافته بود، آقای عرفات جمال اظهار داشت: قرار است در حاشیه یک کنفرانس بین‌المللی در ماه اکتبر سال روان میلادی در سویس، در مورد مشکلات مهاجرین افغان و اقدامات لازم برای حل این مشکلات بحث و گفتگو شود.

وی افزود: کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توافق کرده است تا برای رسیدگی به مشکلات مهاجرین افغان، نشستی سه جانبه را با کشور ایران برگزار کند و در آینده نزدیک نشستی در کابل با حضور نماینده گان کشور ایران، سازمان ملل و امارت اسلامی برگزار خواهد شد.

در ادامه، آقای جمال گفت: سازمان ملل برای حل مشکلات مهاجرین افغان تلاش هایی را آغاز کرده و برنامه‌ای برای جذب منابع مالی مورد نیاز تهیه کرده است.

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان از کمک های سازمان ملل به مهاجرین در افغانستان قدردانی کرده و اظهار داشت: در شرایط سخت به برگشت کننده گان ضروری‌ترین کمک ها و همکاری ها ارائه شده است.

محترم وزیر امور مهاجرین همچنین نشست های چهارجانبه و سه جانبه درباره مشکلات مهاجرین افغان را مؤثر و مهم دانست افزود: امارت اسلامی از تمامی تلاش ها برای حل مشکلات مهاجرین حمایت می‌کند.

به گفته محترم مولوی عبدالکبیر، تاکنون برنامه های زیادی برای مهاجرین افغان و برگشت کننده گان به اجرا درآمده و ظرفیت هایی برای جذب هر گونه همکاری ایجاد شده است.



## د مهاجرینو چارو وزیر د پکتیکا ولایت لپاره د اسلامي امارت له ځینو ډلګۍ مشرانو سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر نن د پکتیکا ولایت لپاره د اسلامي امارت له ځینو ډلګۍ مشرانو سره وکتل.

په دغې لیدنه کې، چې د اسلامي امارت د مجاهدینو د هلو ځلو او قربانیو په اړه خبرې وشوې، د حاضرو ډلګۍ مشرانو په استازیتوب مولوي عارف الله او مولوي نعمت الله مخلص خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې د پکتیکا مجاهدینو د جهاد په پیل کې خورا لږو امکانات ته لاس رسي درلود؛ خو د ولس د همکاریو او ملاتړ له امله د اشغال پر وړاندې د مجاهدینو هره هڅه بریالۍ کېده.

هغوی یادونه وکړه، چې تر دې دمه له ګاونډیو هېوادونو راستنو شویو ته ځینې خدمتونه وړاندې شوي او وړاندیز یې وکړ، چې اسلامي امارت دې راستنو شویو ته د استوګنیزو ښارګوټو چارې ګړندۍ او بېوزلو کورنیو ته د خوراکي توکو مرستې وویشي.

د ناستې پر دوام د پکتیکا ډلګۍ مشرانو له محترم وزیر سره ځینې وړاندیزونه شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلو ډلګۍ مشران ته ښه راغلاست وویل او د اسلامي نظام په راتګ او پاینښت کې یې د هغوی د هڅو او قربانیو ستاینه وکړه.

نوموړي وویل، چې اسلامي امارت پر ولس تکیه کړې او له نیکه مرغه افغانانو د تاریخ په اوږدو کې له اسلامي ارزښتونو په کلکه دفاع کړې ده.

هغه څرګنده کړه، چې په لومړي پړاو کې په جبري ډول راستنو شویو ته د استوګنې ځمکې ورکول کېږي او په دویم پړاو کې به پاتې راستنو شویو ته استوګنیزې نمرې ورکړل شي.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر د پکتیکا ولایت په اړه شوي وړاندیزونه مهم وبلل او ورته د رسېدنې پر لارو چارو یې خبرې وکړې.



## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با رییس موسسه وارچایلد برای افغانستان دیدار نمود

محترم الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با آقای لم جوردن رییس موسسه وارچایلد برای افغانستان، روز ۵ شنبه ۲۶ سنبله، دردفتر کارش دیدار نمود.

در این دیدار، معین مسلکی وزارت از همکاری های وارچایلد قدردانی کرد و آقای لم جوردن از پروژه‌های این موسسه و اهداف سفرش به افغانستان معلومات ارائه داد.

رییس وارچایلد همچنین از برگزاری نشست های جهانی و انتقال موضوعات به همکاران در سطح جهانی خبر داد و ابراز خوشحالی کرد که وضعیت در افغانستان بهبود یافته و توانایی ارائه خدمات در هر نقطه وجود دارد.

محترم راشد نیز اشاره کرد که حدود ۵ الی ۷ میلیون مهاجر به کشور برگشته‌اند و برای رفع مشکلات آنان نیاز به کمک های بیشتر وجود دارد و امارت اسلامی تمام تلاش خود را برای بازگرداندن آنها به محل های اصلی‌شان به کار گرفته است.

در ادامه، در مورد مشکلات مختلف برگشت کنندگان بحث شد و رییس موسسه وارچایلد بیان کرد که نظریات مردم را جمع‌آوری کرده و برنامه هایی برای حل مشکلات طراحی خواهند کرد.

محترم راشد همچنین از همکاری این وزارت اطیمنان داده به مشکلات اقلیمی و اقتصادی اشاره کرد و تأکید کرد که کشور در امنیت است و همکاری در پروژه‌های مختلف موجود است.



## د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي معين په افغانستان کې د قطر هېواد سرې مياشتې اداري له رييس سره وکتل

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي معين ښاغلي شيخ عبدالرحمن راشد نن په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د قطر هېواد سرې مياشتې ادارې له رييس ښاغلي بهاء علي النجومي سره وکتل.

په دې ليدنه کې د پکتيا ولايت د دارالقرار کډوالو ښارګوټي د جوړښت پروژې په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي راشد د يادې ادارې له مرستو د مننې تر څنګ راستنو شويو ته د خدمتونو وړاندې کولو د دوام هيله څرګنده کړه، پر سرپناه جوړولو يې ټينګار وکړ او په دغې برخې کې يې د زياتې همکارۍ غوښتنه وکړه.

ښاغلي بهاء علي النجومي په دارالقرار ښارګوټي کې له ۱۲۰ کورونو څخه د سلو کورونو د چارو بشپړېدو خبر ورکړ او ويې ويل، چې ژر به مستحقو کسانو ته ووېشل شي.

هغه په افغانستان کې د کډوالو اړتياوو پوره کولو لپاره د دوو اړخيزو همکاريو پر ارزښت ټينګار وکړ او په دغې برخه کې يې د ياد وزارت همکارۍ اړينې وبللې.

دغه ليدنه د کډوالو د ژوند ښه‌والي په برخه کې د ګډو هڅو او د مختلفو هېوادونو ترمنځ د انساني همکاريو د زياتوالي څرګندونه کوي.

## د مهاجرينو چارو وزارت د حقوقي ملاتړ رييس د کابل په هوايي ډګر کې راستنېدونکو ته د خدمتونو له وړاندې کولو ليدنه وکړه

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د حقوقي ملاتړ رييس ښاغلي ملا نورمحمد حامد د روانې مياشتې په ۱۷مه له ترکيې څخه د ۱۰۲ تنو کډوالو د ښه راغلاست پر مهال د کابل په هوايي ډګر کې راستنېدونکو ته د خدمتونو له وړاندې کولو ليدنه وکړه.

دغه ليدنه د ياد رياست او د کډوالۍ د نړۍ‌والې ادارې(IOM) د کارکوونکو د فعاليت څارنې په موخه وشوه.

ښاغلی حامد ګومارل شويو کارکوونکو ته د رييس په توګه ور وپېژندل شو او هلته يې د ښه راغلاست، مرکې، روغتيايي خدمتونو او ثبت له لړۍ ليدنه وکړه، کارکوونکو ته يې لازمې لارښوونې وکړې او له هغوی يې وغوښتل، چې خپلې دندې په ايمانداري او رښتينولۍ ترسره کړي او له زيانمنو راستنېدونکو سره د اسلامي روحيې له مخې چلند وکړي.

هغه د ځينو راستنو شويو ستونزې واورېدې او له هغوی يې وغوښتل، چې د حل لپاره يې اړوندې ادارې ته مراجعه وکړي.

دغه ليدنه له ترکيې څخه راستنو شويو کډوالو د ژوند ښه والي او هغوی ته د ښو خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د ياد وزارت ژمنتيا او هڅې څرګندوي.

## سه تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

به ارزش یک میلیون ۲۱۱ هزار و ۳۱۰ دالر امریکایی سه تفاهمنامه همکاری میان انستیتوت جامعه مدنی ، موسسه کمیته بین المللی نجات (IRC) ، موسسه مدنی داد خواهی وتوانمندی و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضاء رسید.

به اساس تفاهم نامه های عقد شده موسسات مذکور مبالغ متذکره را در بخش آموزش های حرفوی برای ۱۲۰۰ تن بیجاشده، برگشت کننده و جامعه میزبان در ولایت بغلان وهمچنان کمک های نقدی برای ۳۳۲۴ خانواده های بیجاشده و برگشت کننده در ولایات هرات،ننگرهار وکندز به مصرف میرساند.

وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در راستای فراهم سازی فرصت های شغلی مناسب با همکاری نهاد های همکار برای مهاجرین برگشت کننده درکشور در تلاش بوده و هدف این وزارت توانمند سازی حرفه‌ای و بهبود وضعیت اقتصادی مهاجرین می‌باشد.



## د مهاجرينو چارو وزارت ۳۰ تنه کارکوونکو د انګليسي او کمپيوټر زده کړې فراغت سندونه ترلاسه کړل

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د مرکزي رياستونو ۳۰ تنو کارکوونکو د انګليسي او کمپيوټر د زده کړې بيزو برنامو تر بشپړولو وروسته د فراغت سندونه ترلاسه کړل.

په دې اړه جوړه شوې غونډه کې لومړی د ياد وزارت مالي او اداري معين ښاغلي شيخ کليم الرحمن فاني د اسلام د سپېڅلي دين ارشاداتو ته په اشارې وويل: الله تعالی دې تاسو ته توفيق درکړي، چې له دغو زده کړو ګټه واخلئ، تر څو ولس او هېواد ته خدمت وکړئ.

هغه ټينګار وکړ، چې په هره څانګه کې تخصص ته اړتيا ده او د مسلکي کسانو لرل د وياړ ځای دی.

وروسته د کارکوونکو چارو رييس ښاغلي مفتي مدير ګل احمدي، د وزارت حقوقي سلاکار ښاغلي مولوي محمدجان خدرخيل له لوري د فراغت سندونه ورکړل شول او غونډه د دعا په ويلو پای ته ورسېده.

دغه برنامې د کارکوونکو د وړتياوو لوړولو او مهارتونو پياوړي کولو په برخه کې د مهاجرينو چارو وزارت هڅې څرګندوي.



## رییس دفتر مقام وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با رئیس دفتر بشردوستانه کشور سویس دیدار نمود

محترم مولوی سعید احمد بنوری، رییس دفتر مقام وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با آقای اریک مارکلی رئیس دفتر بشردوستانه کشور سویس و مسوول اداره توسعه و همکاری های سویس در کابل و آقای چارلی مسوول ارتباط خارجه و جلب کمک های کمیشنری عالی سازمان ملل متحد دراموپناهنده گان، یوم ۵ شنبه ۲۶ سنبله، در دفتر کار خویش دیدار نمود.

در این دیدار، طرفین به بررسی چالش ها، فرصت های موجود و مشکلات مهاجرین پرداخته و راهکارهایی برای بهبود وضعیت آنان مورد بحث قرار گرفت.

محترم بنوری ضمن تأکید بر اهمیت همکاری های بین‌المللی، خواستار توجه بیشتر جامعه جهانی به وضعیت مهاجرین و عودت‌کنندگان افغان شد.

آقای اریک مارکلی نیز بر اهمیت ادامه حمایت از افغانستان در این زمینه تأکید کردند و به همکاری های آینده میان دو طرف اشاره کردند.

این دیدار نشان دهنده‌ی عزم مشترک برای بهبود وضعیت زنده گی افراد برگشت کننده و افزایش تدابیر حمایتی برای آنان میباشد.



## کار حفر یک حلقه چاه عمیق در ولایت بغلان آغازشد

کار حفر یک حلقه چاه عمیق در شهرک اتحاد خواجه الوان ولسوالی دند غوری ولایت بغلان به تاریخ ۱۵ سنبله با حضور رییسان امور مهاجرین، احیا و انشکاف دهات و شهر سازی و مسکن آغازشد.

پروژه مذکور که تحت نظارت ریاست های شهرسازی و مهاجرین و با همکاری دفترخدمات پروژه ای سازمان ملل متحد(UNOPS) (طرف قرارداد با ریاست احیا و انکشاف دهات) به اجرا درمی‌آید، قرار است به عمق بیش از ۱۳۰ متر طی سه مرحله و سه قرارداد جداگانه ( حفر چاه، اعمار احاطه حویلی و ایجاد ذخیره آب) حفر گردد و مجهز به سیستم برق آفتابی و دارای ذخیره و نلدوانی باشد که به طور ویژه نیازمندی باشنده گان شهرک مهاجرین را به آب آشامیدنی سالم در آینده مرفوع خواهد ساخت.

افتتاح چنین پروژه ها، نمایانگر تلاش های مستمر وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و نهادهای همکار در راستای بهبود کیفیت زنده گی مهاجرین برگشت کننده و تأمین نیازهای اساسی آنان می‌باشد.



## بیش از ۶۰۰ خانواده مهاجر در کشور کمک شد

برای ۶۰۸ خانواده بیجاشده، برگشت کننده و جامعه میزبان در ولایات کابل ، ننگرهار ، خوست ، فراه ، بغلان ، بادغیس ، جوزجان، و سرپل کمک های نقدی توزیع شد.

به اساس گزارشات واصله از ولایات ، برای ۱۳۷ خانواده در ولایت کابل مبلغ یک میلیون ۶۶۹ هزار و ۹۲۰ افغانی، برای ۲۸۲ خانواده درولایت ننگرهار مبلغ ۳ میلیون و ۱۰۲ هزار افغانی، برای ۶۸ خانواده در ولایت خوست مبلغ ۱۳ هزار و ۶۰۰ دالر امریکایی، برای ۲۱ خانواده و۱۳۶ تن دربخش اخذ تذکره الکترونیکی در ولایت فراه مبلغ ۴۰۴ هزار و ۵۰۰ افغانی، برای ۲۷ خانواده و ۸۲۰ تن از کارگران برگشت کننده، افراد شامل در برنامه تجارت های کوچک و متوسط، اعمار سرپناه در ولایت بغلان مبلغ ۵ میلیون و ۸۰۲ هزار۲۶۰ افغانی، برای ۶۰ خانواده در ولایت بادغیس مبلغ ۵۱۰ هزار افغانی، برای ۸ خانواده در ولایت جوزجان مبلغ ۱۴۷ هزار افغانی، برای ۵ خانواده در ولایت سرپل مبلغ ۸۵ هزار افغانی، کمک نهاد های همکار این وزارت بود که خانواد های متذکره آن را پس از شناسایی توسط واحد های دومی این وزارت در هماهنگی موسسات دریافت نمودند.

## بیش از ۶۰۰ تن مهاجر پس از آزادی از زندان های پاکستان برگشت نمودند

۶۴۶ تن از زندانیان مهاجر افغان که در زندان های پاکستان محبوس بودند، پس از رهایی از طریق سپین بولدک ولایت قندهار و خط فرضی تورخم ولایت ننگرهار به کشور بازگشتند.

بر اساس گزارشات ۱۷۸ تن از طریق سپین بولدک و ۴۶۸ تن از طریق خط فرضی تورخم به کشور بازگشت نمودند.

افراد یاد شده پس از سپری کردن مدت زمان های متعدد در بازداشت پس از ورود به کشور در آمریت های انتقالات ثبت نام شدند و تحت مساعدت نهاد های همکار به محل های اصلی خود انتقال گردیدند.

